# د افت ضد درملو خونديتوب –
# په بېړني حالت کې لومړنۍ مرسته ۱

معلوماتي پاڼه

## د افت ضد درملو د کارولو په وخت کې ولې باید لومړنۍ مرسته زده شي؟

د افت ضد درمل د پام وړ افتونو د وژلو، د هغوی د ودې د درولو، د بیازېږېدو د مخنیوي اویا دفع کولو په منظور جوړ شوي دي. په عین حال کې، د افت ضد درملو ډېر ډولونه زهرجن دي، له خطر سره یې د مخامختیا په صورت کې خلکو ته ضرر رسوي، ناروغ کوي یې او یا یې وژني. د یوې پېښې په وخت کې د لومړنۍ مرستې د ابتدايي کړنلارې زدکړه له خطر سره مخامخ شخص ته ډېر زیات چانس په لاس ورکوي ترڅو د زیان کچه راټیټه کړي.

## تر بېړني حالت مخکې باید څه وکړل شي

- د بېړني حالت تر پېښېدو مخکې د سږي او زړه د راژوندي کولو (د ناروغ د سینې کښېکښل او په خوله کې یې ور پو کول، ترڅو زړه او سږي یې فعاله سي) په شمول د لومړنۍ مرستې نوري لارې چارې زده کړئ.
- د افت ضد درملو پر ټاپه باندې د لومړنۍ مرستې په اړه ټول لیکل شوي معلومات ولولئ. د ټولو افت ضد درملو ټاپې په مشخص ډول د هماغه کیمیاوي موادو لپاره په بېړني حالت کې د لومړنۍ مرستې په اړه معلومات لري.
  - o په یاد ولرئ چې د بېړنۍ مرستې کړنلارې د ټولو افت ضد درملو لپاره یوشان نه دي. د مثال په توګه، که چیري نفتي او په لوړه کچه تباه کوونکي د افت ضد درمل له ستوني تېر شي، تاسو باید خوا ګرځېدو یا قی وهلو ته ناروغ اړ نه باسئ لکه څنګه چې د نورو افت ضد درملو له خوړلو وروسته ترسره کېږي. ناسمه لومړنۍ مرسته ناروغ ته د لا ډېر زیان رسېدو باعث کېدای سي.
- د بېړنۍ طبي مرستې لپاره د ترټولو نژدې ځای د نوم، د اړیکو شمېرې او آدرسونه څوړند کړئ. ډاډ حاصل کړئ چې هرڅوک پوهېږي چې معلومات چیرې دي. کټ مټ معلومات په هغو نقلیه وسایطو کې هم ونښلوئ چې په بېړني حالت کې کار ځنې اخیستل کېږي.
- هغې ساحې ته نژدې چې د افت ضد درمل پکښې شیندل کېږي، د اوبو پاکه منبع، پاک روی پاک، صابون او کالي د لاسرسي وړ وګرځوئ.

## د احتمالي یا حقیقي بېړنۍ پېښې په وخت کې څه باید وشي



د نورو تر ژغورلو مخکې د خپل ځان محافظت وکړئ ۱

- تر بېړنۍ مرستې مخکې لومړی د خپل ځان حفاظت وکړئ. که چیري یوچا ته له بندي یا حصار شوي ساحې څخه نجات ورکوئ، نو د یوې سمي تنفسي آلې پرته هغې ساحې ته مه ور ننوځئ.
- ژر تر ژره د طبي مرستې په لټه کې شئ، په ځانګړی ډول که چیري شخص د لوړو زهرجنو کیمیاوي موادو له خطر سره مخامخ شوی وي.
- د افت ضد درملو ټاپه له ځان سره طبي مرکز ته یوسئ.
- که چیري اغېزمن شخص د سربدالۍ یا ناروغۍ احساس کوي او یا د ساکښنلو ستونزه ولري، کار ژر تر ژره بند کړئ. که چیري تاسو خپله د درملو له خطر سره مخامخ شوي یاست، نو له یو نږدې کس څخه د مرستې غوښتنه وکړئ.

که د افت ضد درمل د بدن پر پوستکي توییږي او یا کالي لندوي، نو ...

- د ککړې ساحې څخه ووځئ.
- کالي په بېړه وکاږئ او په صابون یې پرېمنځئ
  - o هرڅومره ژر چې اقدام وکړئ په هماغه اندازه به د زیان د مخنیوي ډېر چانس ولرئ
- د طبي مواظبت په لټه کې شئ.

ترتیب کوونکي: فرانک زلوم، پاټ تامپسن، نهضت الله نهضت (پین)، مارک هیندرسن او مارک بیل، جولای ۲۰۰۹

**ماخذونه:** د کوچنیو کروندو لپاره د افت ضد درملو خونديتوب، د کالیفورنیا پوهنتون د کرهنیزو او طبیعي منابعو خپرونه، ۲۱۵۵۵ ګڼه
د افت ضد درملو خوندي او اغېزناک استعمال، د کالیفورنیا پوهنتون د کرهنیزو او طبیعي منابعو خپرونه، ۳۳۲٤ ګڼه

**د انځورونو کریډیټ:** [۱] د کوچنیو کروندو لپاره د افت ضد درملو خونديتوب، د کالیفورنیا پوهنتون د کرهنیزو او طبیعي منابعو خپرونه، ۲۱۵۵۵ ګڼه

**د لا زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ:** نړیوال پروګرامونه: http://eafghanag.ucdavis.edu

**د خپرولو حق د کالیفورنیا پوهنتون له ریجینټز ډاویس څانګې سره، ۲۰۱۱. ټول حقوق خوندي دي.**